# د زده کوونکو او ښوونکو

# د حلقو جدول

# د ګاونډي درې حقونه

(قسط:2)



د 22 مۍ، 2025ء

# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه (3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د مسلمانانو درې حقونه** ښودلے شي او **د یو قوم نه د خطرې پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل پهٔ پلِ صراط باندې نُور دے، څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ ما باندې 80 کرته دُرُودِ پاک ولولي د هغهٔ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي۔ (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د ګاؤنډي درې حقونه (قسط: 2)

## آیت مبارک

**اللّٰه** پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی وَالْجَارِ الْجُنُبِ (پاره:5، سورۃ النساء: 36) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نزدې ګاؤنډیانو او د لرې ګاؤنډیانو (سره ښه سلوک کوئ)۔ |

ګاؤنډیان پهٔ دوه قِسمه دي (1): څوک چې زمونږ پهٔ خوا کښې اوسیږي، هغهٔ ته نزدې ګاؤنډي وئیلے شي۔ (2): څوک چې زمونږ نه پهٔ لرې فاصله باندې اوسیږي، هغهٔ ته لرې

[1]… الترغیب فی فضائل الاعمال، باب مختصر من الصلاۃ علی رسول اللہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:14، حدیث:22۔

ګاؤنډي وئيلے شي- [1]علمائے کرام فرمائي: د هر طرف نه تر 40 کورونو پورې ګاؤنډ دے يعنې د کور ښي اړخ، ګڅ اړخ، مخې او شاته 40، 40 کورونه ګاؤنډيان دي- [2]که په فليټ وغيره کښې اوسيږي نو بيا به ښکته او لاندې کورونه هم په ګاؤنډ کښې شامل وي-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په الله پاک مې دې قَسم وي هغه به جنَّت ته نۀ ځي د چا د شَر نه چې د هغۀ ګاؤنډي محفوظ نۀ وي- [3]

## د ګاؤنډي درې حقونه

ګاؤنډي که نيک وي او که ګنهګار، دوست وي او که دښمن، په مونږ باندې د هغۀ ډير حقونه دي- په کومو کښې چې درې اهم حقونه مونږه زده کړي دي او درې به نن زده کوو- راځئ چې وړومبے زده کړے شوي حقونه رایاد کړو: (1): د ګاؤنډي ضرورت پوره کول (2): که بيمار وي نو تپوس پوښتنه يې کول (3): غَم خَواري کول-

نور درې حقونه کوم چې به نن زده کوو:

### وړومبے حق: اِحسان کول

**وضاحت:** بغير د څۀ بدل نه نيکۍ کولو ته اِحسان وئيلے شي- [4] يعنې د مخامخ ګس نه د مننې کولو او د بدل وغيره د طمعې ساتلو نه بغير صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د چا سره نيکۍ او ښيګړې کولو ته اِحسان وئيلے شي- مثلاً ❁ د ګاؤنډي لاس تنګ دے، په خپلو بچو باندې ښه تعليم نشي کولے نو د هغۀ په بچو باندې ښه تعليم کول ❁ د

---

[1]…تفسير مدارك التنزيل، پاره:5، سورۀ النساء ، تحت الآيت:36، جلد:1، صفحه:357-
[2]…نعيمی، پاره:5، سورۀ النساء، تحت الآيت:36، جلد:5، صفحه:84-
[3]…مسلم ، كتاب الايمان، باب بيان التحريم ايذاء الجار، صفحه:41، حديث:46-
[4]…لمعات التنقيح، كتاب الايمان، جلد:1، صفحه:208، تحت الحديث:2-

ګاؤنډي سره د خپلې خور لور د واده د پاره د سامان وغیره اخستو د پاره پیسې نشته نو د دې بندوبست کول ❁ که ګاؤنډي بیمار دے او علاج نشي کولے نو د هغهٔ عِلاج کول وغیره- نبي کریم، رؤوف الرحیم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې پهٔ الله او پهٔ اخرت باندې ایمان لري، هغهٔ له پکار دي چې پهٔ ګاؤنډي باندې اِحسان وکړي- (1)

## دویم حق: تکلیف نهٔ ورکول

**وضاحت:** دا خیال ساتل چې زمونږ د طرف نه ګاؤنډي ته هیڅ قِسمه تکلیف اونهٔ رَسي، نهٔ د لاس نه، نهٔ د ژبې نه، نهٔ د کردار نه- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې عرض وکړے شو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! فلانکۍ زنانه د ورځې روژه نیسي، د شپې قیام کوي (نـمونځونه کوي) او خپلو ګاؤنډیانو ته تکلیف هم رسوي- نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: هٰغه (زنانه) دوزخي ده- (2)

**مختصر شرح:** یعني ګاؤنډیانو له تکلیف ورکول د دوزخیانو والا کار دے، که دا زنانه د خپل کار نه توبه اونه کړي (د ګاؤنډیانو نه معافي اونه غواړي) نو دوزخ ته به ځي، د دې نفلونه به پهٔ کار نهٔ راځي ولې چې پهٔ نفلونو باندې د خلقو حقونه نهٔ معاف کیږي- (3)

## دریم حق: جنازې ته حاضریدل

**وضاحت:** خدائے دې نکړي که ګاؤنډي یا د هغهٔ څوک خپل وفات شي نو د هغهٔ پهٔ غم کښې مکمل شرکت کول، د غسل، کفن نه واخله تر د دفن کیدو پورې چې پهٔ کومه معامله کښې هغهٔ ته زمونږه ضرورت وي نو هغه پوره کول پکار دي! یاد ساتئ چې جنازه فرضِ کفایه ده (که یو څو کسانو وکړه نو د ټولو فرض ادا شو، که چا هم ونکړه نو څوک چې خبر شوي وو، هغوئي ګنهګاران شول) (4) جنازه کول او د دفن کولو د

1....مسلم، کتاب الایمان، باب الحث علی اکرام الجار والضَّیف، صفحه:42، حدیث:48-
2....شعب الایمان، باب فی اکرام الجار، جلد:7، صفحه:79، حدیث:9546-
3....مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:577، بتغیر قلیل-
4....بهار شریعت، جلد:1، جز:ب، صفحه:825، حصه:4، بتغیر قلیل-

پاره تر قبره پورې تلل هم د ګاؤنډي حق دے۔

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د کور نه د وتلو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

بِسۡمِ اللّٰه تَوَکَّلۡتُ عَلَی اللّٰه لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَاِلَّا بِاللّٰه

ترجمه: د الله پاک په نوم سره، ما په الله پاک باور وکړو، د ګناه نه د بچ کيدو طاقت او د نيکئ کولو طاقت هم د الله پاک د طرف نه دے۔ (1)

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوۡرَةُالۡمُلۡك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آية الکرسي، تسبيحِ فاطمه، سُوۡرَةالِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا

1....سنن ابو داود، کتاب الادب، باب مايقول اذا خرج من بيته، صفحه:796، حديث:5096۔

پهٔ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پهٔ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پهٔ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا کړې؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پهٔ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟

(50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پۀ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❁ پۀ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خورې او د چا پۀ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پۀ هفته کښې مو پۀ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي وروېڼو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟